قرآني بيان

# د عبادت فائدې

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمامِ مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

**18-July-2025**

د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 18 جولائي، کال 2025ء (22 مُحَرّمِ الحَرام، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پهٔ نوم

# د عبادت فائدې

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- آیا زهٔ شُکر ګزار بنده نهٔ جوړیږم !
- د عبادت د ټولو نه اعلیٰ درجه
- د خُدائے د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عبادتونه
- د نیکانو خلقو عبادتونه
- پهٔ کثرت سره د عبادت فائدې
- دُنیا ته د راتللو مقصد عبادت دے

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback* :+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيِّيْن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په کتاب کښې په ما باندې درودِ پاک وليکو نو تر څو پورې چې زما نوم په هغې کښې ليکلے شوے وي فرښتے به د هغهٔ د پاره اِستِغفَار (يعني د بخښنې دُعا) کوي۔ [1]

عجب کرم کہ خود مجرموں کے حامی گناہگاروں کی بخشش کرانے آئے ہیں

وہ پرچہ جس میں لکھا تھا درود اُس نے کبھی یہ اس سے نیکیاں اُس کی بڑھانے آئے ہیں [2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

يٰاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۲۱﴾ لا

(پارہ:1، سورۃ البقرۃ:21)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس چې مونږه د کوم آيت مبارک د اوريدو سعادت حاصل کړو، دا د وړومبۍ سيپارې، د سُورۀ بقره 21 نمبر آيت دے- د دې نه مخکښې چې د سُورۀ بقره کوم 20 آيتونه دي، په هغې کښې د اِنسانانو درې قِسمونه بيان شول:

---

1... معجم اوسط، جلد:1، صفحه:497، حديث:1835۔

2... سامانِ بخشش، صفحه:141 142۔

(1): متقیان: د هغوئي په باره کښې الله پاک وفرمائيل چې دا هٔغه خوش قِسمته خلق دي کوم چې د الله پاک د طرف نه په پوخ هدايت باندې هم دي او کامياب هم دي (2): کافِران: د دوئي په باره کښې وفرمائيلے شو چې دا هٔغه بد بخته دي چې د دوئي په زړونو او غوږونو باندې مهر لګيدلے دے، په سترګو باندې يې پردې دي او د دوئي د پاره په اخرت کښې لوئي عذاب دے (3): مُنَافقان: دا ډير خراب او بد ترين کافران دي، کوم چې په زړۀ کښې کُفر پټ ساتي او په خُله باندې کلمه وائي- د دوئي په باره کښې يې وفرمائيل چې د دوئي د پاره دَردناک عذاب دے-

بالکل واضحه او ښکاره خبره ده چې کوم عقل مند هم د انسانانو کله دا درې قِسمونه لولي نو غواړي به چې زۀ متقي جوړ شم چې په هدايت باندې مې استقامت نصيب شي او زۀ په دُنيا او په اخرت کښې کامياب هم شم- بيا په آيت نمبر 21 کښې د تقوىٰ حاصلولو طريقه ښودلے کيږي-

## د آيت مبارک مختصر وضاحت

| | |
|---|---|
| يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ | ترجمہ کنزُالعِرفان: اے خلقو! |

دا عام خِطاب دے، د يوې زمانې يا د يوې طبقې خلق ترينه مراد نۀ دي بلکې هر هٔغه کس کوم چې انسان دے، د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په اولاد کښې دے، هغۀ که د دُنيا په هره سيمه کښې اوسيږي، په هره يوه زمانه کښې وي، غرض دا چې د هر يو اِنسان د پاره حُکم دے چې

| | |
|---|---|
| اُعْبُدُوْا | ترجمہ کنزُالعِرفان: عبادت کوئ! |

مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دلته به د عبادت د لفظ عامه معنىٰ کولے شي يعنې اے کافرانو! عبادت کوئ! يعنې ايمان قبول کړئ! اے منافقانو! عبادت کوئ! يعنې مخلصه جوړ شئ! اے ګنهګارانو! عبادت کوئ! يعنې ګناهونه پريږدئ او په

نیک کارونو کښې لګیا شئ! غرض دا چې قِسما خلقو ته د هغوئي د حالت مطابق حکم دے چې عبادت کوئ! [1] د چا؟ اوئې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| رَبَّكُمُ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د خپل رَبّ- |

زمونږه رَبّ څوک دے؟

| | |
|---|---|
| الَّذِیْ خَلَقَكُمْ وَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: چاچې تاسو او ستاسو نه مخکښې خلق پیدا کړي دي- |

دا جُمله د الله پاک د عبادت د حق مستحق کیدلو دلیل دے- یعنې الله پاک هم هغه دے چا چې پهٔ تا باندې بے شمیره انعامونه وفرمائیل، تهٔ لا دُنیا ته راغلے هم نهٔ وې، د دې نه پهٔ صدو وړاندې پهٔ تا باندې د انعامونو لړۍ شروع شوې وه-

لږ غور وکړئ که الله پاک حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام نهٔ وے پیدا کړے نو آیا مونږ به دُنیا ته راغلې وے؟ نا- ځهٔ! آدم عَلَیْهِ السَّلَام پیدا کړے شو، که د هغوئي اولاد نهٔ وے نو مونږ به دُنیا ته راغلې وے؟ نا- ځهٔ! اولاد یې هم وشو خو د هغوئي د اولاد د اولاد د زرګونو، کروړونو، اربونو انسانانو سلسله مخکښې نهٔ تله نو آیا مونږ به دُنیا ته راغلې وے؟ نا- ځهٔ! دا د دُنیا د انسانانو سلسله هم مخکښې لاړه، که زمونږه مور او پلار شندې [یعنې بچي یې نهٔ] وو نو مونږ به دُنیا ته راغلې وے؟ نا- ځهٔ! مونږه پیدا هم شو، څومره داسې خلق دي کوم چې د پیدا کیدو سره مړه شي، پیدائشي طور لیوني وي، ډیر داسې دي کوم چې د پیدا کیدو سره پهٔ *I.C.U* کښې داخلولے شي ، خُدائے دې نهٔ کړي که چرې داسې شوي وو نو آیا نن به مونږه ډاکټر، انجنیئر، افسر او پته نه لګي چې څهٔ څهٔ جوړ شوي یو؟ نشو جوړیدے- نور غور وکړئ! زمونږه پلار نیکونه هم پیدا شو، مونږه هم دُنیا ته راغلو خو که دلته د ژوند تیرولو اسباب نهٔ وے نو---؟ پهٔ کائنات کښې څومره داسې سیارې دي، مشتري، مریخ، زُحل وغیره د سائنس دانانو د وینا مطابق نورو ځایونو ته د تللو کوشش

1…تفسیرنعیمی، پارہ:1، البقرۃ، زیر آیت:21، جلد:1، صفحہ:213 ملتقطًا۔

کولے شي خو هلته د ژوند تيرولو اسباب نشته، اکسيجن، هوا، اوبه وغيره په زرګونو قِسمه ضرورتونه دي، کوم چې هلته نشته، ځکه مونږ هلته نۀ شو تلے، که لاړ هم شو نو ژوندي نۀ شو پاتې کيدے، که دا زمکه هم داسې وه نو--؟ آيا مونږ به په دُنيا کښې وو؟ آيا مونږ به دلته ژوند تير کړے وو؟ آيا دلته به مو د لکونو، کروړونو روپو کاروبار شروع کړے وو؟ دا ټول نعمتونه کوم چې مونږ ته په نظر راځي، کوم چې مونږه استعمالوو، آيا دا هر څۀ به وو؟ نۀ به وو-

اندازه ولګوئ چې دا د څومره صدو انعامونه دي کوم چې په مونږ باندې مسلسل کيږي، الله پاک مونږه هم پيدا کړو، زمونږ نه مخکښې چې زمونږه کوم پلار نيکونه، ډر نيکونه وغيره وو، هغوئي يې هم پيدا کړل، بيا يې په هغوئي کښې هر يو صرف پيدا نۀ کړو بلکې هغوئي له يې د ژوند د تيرولو اسباب هم ورکړه، هغوئي له يې ژوند هم ورکړو او د هغوئي د پالنې، مناسبې روزنې او په دُنيا کښې د ژوند د تيرولو اسباب يې هم ورکړل، آيا داسې څوک بله هستي شته کوم چې په مونږ باندې دومره ډير انعامونه وکړي؟ آيا څوک بل خالِق شته؟ څوک رازق شته؟ هُغه ټول دروغژن خُدايان د کومو چې غير مسلمه عبادت کوي، آيا په هغوئي کښې څوک داسې شته کوم چې دومره انعامونه کولے شي؟ نشته، هيڅکله هم نشته- د مکے مکرمې کافرانو هم دا خبره منلې وه، په قرآنِ کريم کښې دي:

قُلْ مَنْ یَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ اَمَّنْ یَّمْلِكُ السَّمْعَ وَ الْاَبْصَارَ وَ مَنْ یُّخْرِجُ الْحَیَّ مِنَ الْمَیِّتِ وَ یُخْرِجُ الْمَیِّتَ مِنَ الْحَیِّ وَ مَنْ یُّدَبِّرُ الْاَمْرَؕ فَسَیَقُوْلُوْنَ اللّٰهُۚ فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ(۳۱) (پاره:11، سورۀ اليونس:31)

ترجمہ کنزُالعِرفان: تۀ وفرمايۀ: د اسمان او زمکې نه تاسو ته څوک روزي درکوي يا د غوږ او سترګو مالک څوک دے؟ او ژوندے د مړي نه او مړے د ژوندي نه څوک را اوباسي او څوک د ټولو کارونو تدبير کوي؟ نو اوس به وائي: " الله"- نو تۀ وفرمايۀ: نو تاسو ويريږئ ولې نۀ؟-

الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ<br>(پاره:11، سورۂ اليونس:32) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو دا الله دے کوم چې ستاسو رښتينے رَبّ دے۔ |

بعضې نادانه دا هم وائي چې د دې دُنيا چې کوم نظام روان دے، دا هر څۀ نيچر[قدرتي طور] روان دي، د دُنيا نظام دے چې د يو خاص مرحلې د تيريدو نه پس ماشوم پيدا کيږي، بيا هغه لوئي کيږي، بيا چې کله د هغۀ د وجود اندامونه کار پريږدي نو هغه مړ شي - دا بالکل د بے وقوفئ خبره ده، د داسې بے وقوفو نه صرف دومره پوښتنه ده چې يو ماشوم کوم چې د انسانانو کره پيدا شو، اخر څۀ وجه ده چې هغه د يو څناور کره پيدا نۀ شو؟ يا يو بچے کوم چې د څناور د خِيټې نه پيدا شو، څۀ وجه ده چې هغه د انسان نه پيدا نۀ شو؟ څوک خو شته د چا فيصله چې نافذ ده، څوک خو شته د چا پۀ حکم باندې چې مونږه انسانان جوړ شو او ډير مخلوقات څناور شول- بس هم هُغه د چا چې حکم چليږي، د چا چې فيصله نافذ کيږي، هغۀ خُدائے دے، هم هغه د عبادت لائق دے-

غرض هر انسان ته حکم دے چې ستا خالق هم الله دے، ستا مالک هم الله دے، تا ته د ژوند اسباب هم الله پاک درکوي، تا پالي هم الله پاک، ځکه هم هغه د عبادت لائق دے، صرف او صرف هم د هغۀ عبادت کوئ!

ياد ساتئ که مونږه عبادت کوو نو د دې فائده الله پاک ته نۀ رسي بلکې د دې فائده هم مونږ ته رارسي، هغه څنګه؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۲۱﴾ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: پۀ دې اُميد (عبادت کوئ) چې تاسو پرهيزګاره جوړ شئ- |

تقوىٰ يو ډير فراخه مفهوم لري- چې د خلاصې پۀ طور يې ي عرض کړم نو زمونږه پۀ ذات او پۀ شخصيت کښې د منفي څيزونو نشت والے، دا تقوىٰ ده- مثلاً يو بنده خپلې

فرائض نۀ پوره کوي (نـمونځ نۀ کوي، روژه نۀ نيسي، د مور او پلار خدمت نۀ کوي وغيره)، دا منفي څيزونه دي، د دې نشت والے تقویٰ ده- يو بنده دوکه کوي، دا منفي څيز دے، د دې نشت والے تقویٰ ده- يو بنده ظلم کوي، نورو ته بر ناحقه تکليفونه رسوي، دا منفي څيز دے، د دې نشت والے تقویٰ ده، يو بنده پۀ نورو بد ګماني کوي، پشي شا وريسې خبرې کوي، د نورو عزتونو ته لاس اچوي، دا ټول منفي څيزونه دي، د دې نشت والے تقویٰ ده-

غرض دا که مونږه پۀ خپل ذات کښې، پۀ خپل کردار کښې، پۀ خپلو اخلاقو کښې، پۀ خپلو رويو کښې، د خپل ژوند پۀ انداز کښې بهتري راوستل غواړو او مثبت څيزونه راوستل غواړو نو د دې طريقه دا ده چې د الله پاک عبادت وکړو! د دې پۀ برکت به مو سوچ مثبت شي، کردار به مو مثبت شي، اخلاق به مو مثبت شي، انداز به مو مثبت شي، زمونږ د ټول ژوند اِصلاح به وشي، چې دا وشي نو د الله پاک پۀ مهربانئ سره به پۀ نيغه لار باندې هم يو او پۀ دُنيا او پۀ اخرت کښې به کامياب هم شو-

دا ده د عبادت کولو يوه بنيادي فائده---!! الله پاک دې مونږ ټولو ته د اِخلاص سره، پۀ نيک نيتئ سره پۀ کثرت سره د عبادت کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د آيت مبارک نه حاصليدونکي سبقونه

دلته بعضې خلق پۀ شيطاني وسوسو کښې راځي او پۀ دې وئيلو د عبادت نه د ځان خلاصولو کوشش کوي چې د دوزخ او د جنَّت فيصله خو شوې ده، لهذا اوس د عبادت څۀ فائده ده، که پۀ قِسمت کښې مو جنَّت ليکلے شوے وي نو که نـمونځونه نۀ کوو نو هم به جنَّت ته ځو او که پۀ قِسمت کښې مو دوزخ ليکلے شوے وي نو که هر څومره هم عبادت وکړو نو بيا به هم دوزخ ته ځو-

مَعَاذَ الله! د الله پاک پناه---!! دا ډيرې سختې جُملې دي او د شيطان ډير سخت ګوزار

دي- په دې آيت مبارک باندې غور وکړئ! الله پاک دا نۀ دي فرمائيلي چې جنَّت ته د تللو د پاره عبادت وکړئ! دا يـې نۀ دي فرمائيلي چې د دوزخ نه د بچ کيدو د پاره عبادت وکړئ! بلکې فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِیْ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے خلقو! د خپل رَبّ عبادت کوئ-

معلومه شوه چې مونږ به عبادت کوو، ولې به يې کوو؟ دې د پاره چې مونږه بندګان يو، ځکه چې الله پاک زمونږه رَبّ دے، هغه زمونږه خالق دے، زمونږه مالِک دے، زمونږه رازق دے، هغۀ مونږ له رزق راکوي، زمونږه پالنه کوي، مونږ ته ساه ګاني راعطا کوي، مونږ له ژوند راکوي- جنَّت راکول، نۀ راکول دا د رَبِّ کريم خوښه ده، مونږه بندګان يو، ځکه به هم د بندګۍ حق ادا کوو-

## د الله پاک محبوب بندګان

الله پاک حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي وفرمائيله: اِنَّ اَوَدَّ الْاَوِدَّاءِ اِلَيَّ مَنْ عَبَدَنِيْ بِغَيْرِ نَوَالٍ لٰكِنْ لِّيُعْطِيَ الرُّبُوْبِيَّةَ حَقَّهَا يعنې زما ډير خوښ کس هغۀ دے څوک چې بغير د عِوَض نه زما عبادت کوي او د ربوبيت (يعنې زما د رَبّ کيدو) حق ادا کوي- په "**زبور شريف**" کښې دي: د هغه نه زيات ظالِم به څوک وي کوم چې د جنَّت يا د دوزخ په وجه زما عبادت کوي، که ما جنَّت او دوزخ نۀ وے پيدا کړے نو آيا زما اطاعت به نۀ کيدو---؟؟ (1)

## که الله جنَّت او دوزخ نۀ وے جوړ کړي نو---؟؟

يو ځل يو څو بزرګان د حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا په خدمت کښې حاضر وو، هغې پوښتنه وکړه: چې تاسو د الله پاک عبادت ولې کوئ؟ يو جواب ورکړو: مونږ د دوزخ نه ويريږو، د قيامت په ورځ به د دوزخ د پاځه (يعنې په پلِ صراط باندې) تيريدل وي، د دې نه د بچ کيدو د پاره عبادت کوو، يو بَل ګس ووئيل: مونږ جنَّت ته د تللو د پاره عبادت

1... احياء العلوم، کتاب المحبة والشوق...الخ، بيان ان المستحق للمحبة...الخ، جلد: 4، صفحه: 371-

کوو- حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها وفرمائيل: د الله پاک عبادت فرضِ عين دے، که هغه جنَّت او دوزخ نۀ وو پيدا کړي نو آيا بندګان به د هغۀ د عبادت نه منکر کيدل؟ (1)

جس کا عمل ہو بے غرض اس کی جزاء کچھ اور ہے
حُور وخیام سے گزر، بادہ وجام سے گزر

وضاحت: يعنې دا ضروري نۀ ده چې د جنَّتي حورو، د هغه ځائے د محلونو او د هغه ځائے د پاکو شرابو حاصلولو د پاره عبادت کول دي، عبادت خاص د بندګۍ حق دے، د دې خيزونو فِکر پريږده او د الله پاک پۀ محبت کښې مست شه او عبادت وکړه! ځکه چې د چا عمل بے غرضه وي، د هغې بدله ناشنا وي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

## آيا زۀ شُکر ګزار بنده نۀ جوړيږم!

وګورئ چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګناهونو نه معصومه دے، د دواړو جهانو مالِک دے، د جنَّت مالِک دے، قاسِمِ جنَّت دے، د الله پاک پۀ عطا سره به د قيامت پۀ ورځ پۀ خپلو غلامانو باندې جنَّت تقسيموي- د دې باوجود به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ کثرت سره عبادت کولو، د شپې به يــې دومره اوږد قيام کولو چې مبارکې ښپې به يــې وپړخيدلې، د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْها عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو خو هغه يئ چې ستاسو پۀ برکت الله پاک د مخکښينو وروستنو ګناهونه بخښلي دي، د دې باوجود تاسو پۀ دومره کثرت سره عبادت کوئ- خوږ نبي، ښۀ نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير ښکلے جواب ورکړو، اوئې فرمائيل: اَفَلَا اَكُوْنَ عَبْدًا شَكُوْرًا آيا زۀ به د الله پاک شُکر ګزار بنده نۀ جوړيږم ---؟ (2)

---

1...تذکرۃ الاولیاء، باب ہشتم، ذکر رابعة رَحمةُ اللهِ عَلَيْها، جلد:1، صفحه:73 ملتقطاً-
2... مسلم، کتاب صفة القيامة والجنة والنار، باب اکثار الاعمال...الخ، صفحه:1085، حديث:2820 ملتقطاً-

سُبْحٰنَ اللہ! خومره ښکلے شان دے زما د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ---!!

## د عبادت د ټولو نه اعلیٰ درجه

دلته يو وضاحت کوم چې د جنَّت په طلب کښې عبادت کول دا هم جائز دي، د دوزخ نه د بچ کيدو د پاره عبادت کول، دا هم جائز دي، البته دا د اخلاص لاندينۍ درجه ده- د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ والدِ محترم مولانا نقي علي خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي: د عبادت څلور درجې دي- (1): د جَنّت په خواهش کښې عبادت کول (دا هم جائز دي) (2): د عذاب د ويرې نه عبادت کول (دا هم جائز دي) (3): د الله پاک د رضا د پاره عبادت کول (4): د الله پاک د ديدار په شوق کښې عبادت کول، دا (اخرۍ درجه يعني صرف او صرف د الله پاک د ديدار په شوق کښې عبادت کول) د ټولو نه اعلیٰ او اکمل او د مَحَبَّت والؤ عِبَادت دے- (1)

بهر حال! مونږ له هم پکار دي چې د شيطان په وسوسو کښې نۀ راځو، که شيطان په غوږ کښې ووائي چې تقدير ليکلے شوے دے چې څوک به جنَّت ته ځي او څوک به دوزخ ته ځي، دا ټاکلے شوې ده، بيا د عبادت کولو څۀ فائده---؟ مونږ به هغه ته څۀ وايو؟ مونږه دعبادت ګزار آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمتيان يو، مونږه د خپل رَبّ بندګان يو، هغه که مونږ له جنَّت راکوي او که دوزخ ته مو غورځوي، دا فيصله د هغۀ ده، مونږه بندګان يو، ځکه به بندګي (يعني عبادت) کوو-

## د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عبادتونه

د صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے،چې د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به روژې نيولې او دومره په کثرت سره

---

1...انوار جمال مصطفےٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، صفحه: 329 333 ماخوذاً-

به يې نـمونځونه كول چې د هغوئي شپې مباركې به وېرخيدلې- (1) أُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت عائِشه صِدّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا فرمائي: سركارِ عالي وقار، مكي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به قِيَامُ اللَّيْل (د شپې نفل نـمونځ) هيځكله هم نۀ پرېښودو- (2) د أُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت اُمِّ سلمه رَضِیَ اللہُ عَنْہا د روايت مطابق د نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم معمول مبارک دا وو چې د شپې به يـې نـمونځ ادا كولو، بيا به چې يـې څومره وخت نـمونځ ادا كولو، هُغه همره وخت به يـې ارام فرمائيلو، بيا به پاځيدو او چې څومره وخت به يـې ارام كړے وو، هُغه همره وخت به يـې نـمونځ ادا كولو، بيا به يـې د نـمونځ كولو پۀ مِقدار ارام فرمائيلو، داسې به يـې كول كول تر دې پورې چې سحر به شو- (3) حضرت جابر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به د ارام كولو نه پس كله بيدار شو نو مسواک به يـې كولو او تازه اودس به يـې وكړو او نـمونځ به يـې ادا كولو- (4)

صحابئ رسول حضرت حذيفه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يوه شپه د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ جومات كښې نـمونځ ادا كولو، ما هم موقع غنيمت وګڼله او پۀ نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې شاته ودريدم او پۀ هغوئي پسې مې نـمونځ شروع كړو- د الله پاک رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ نـمونځ كښې د سورۀ بَقَرَه تِلاوت شروع كړو، زما پۀ زړۀ كښې خيال راتلو چې حُضُور، جانِ كائنات صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پۀ 100 آيتونو پوره كيدو ركوع كوي خو رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ 100 آيتونو باندې ركوع ونكړه بلكې مخكښې يـې تلاوت كولو، بيا ما سوچ وكړو چې پۀ 200 آيتونو پوره كيدو به ركوع كوي خو نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ 200 آيتونو باندې هم ركوع ونكړه- بيا ما سوچ وكړو چې رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د سورۀ بَقَرَه (يعني تقريباً د دوه نيمو سيپارو) پۀ

---

1...تاريخِ مدينه و دمشق، جلد:4، صفحه:141-
2...ابوداؤد، كتاب الصلاة، باب:قيام الليل، صفحه:214، حديث:1307-
3...ترمذى، كتاب فضائل القرآن، باب:مَا جَاءَ كَيْفَ كَانَتْ قِرَآءَةُ النَّبِي، صفحه:679، حديث:2923-
4...مجمع الزوائد، كتاب الصلاة، جلد:2، صفحه:462، حديث:3651-

پوره کیدو به رکوع کوي- نو سورۀ بَقَرَه مکمل شوه خو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیا هم رکوع اونه فرمائیله بلکې سورۀ آلِ عِمرَان یې شروع کړو- بیا ما سوچ وکړو چې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د سورۀ آلِ عِمرَان په تلاوت مکمل کولو رکوع فرمائي- (خو زما خیال دا ځل هم صحیح نۀ شو) جانِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سورۀ آلِ عِمرَان مکمل کړو (یعنې پاؤ کم څلور سیپارې تلاوت یې وکړو) خو رکوع یې ونکړه بلکې سورۀ نِسَآء یې شروع کړه-

حضرت حذیفه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما سوچ وکړو چې کیدے شي حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سورۀ نِسَآء پوره کیدو باندې رکوع وکړي، په دې ځل هم زما خیال صحیح نۀ وو، جانِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سورۀ نِسَآء مکمل کړه، (یعنې پاؤ باندې 5 سیپارې یې مکمل کړې) بیا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سورۀ مَائِده شروع کړه او د سورۀ مَائِده د تلاوت مکمل کولو نه پس (یعنې تقریباً د پاؤ باندې 6 سیپارو په لوستلو) یې رکوع وکړه- ما واوریدل چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رکوع کښې **سُبۡحَانَ رَبِّیَ الۡعَظِیۡم** لوستل، بیا په (دویم رکعت کښې) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سورۀ اَنعَام شروع کړو- [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو وکتل چې بخښونکي آقا، په الله تعالی باندې د اُمت بخښلو والا آقا، د دواړو جهانو داتا، نُورِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څومره په کثرت سره او څومره په پابندۍ سره عبادت کولو- بیا دلته هم غور وکړئ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مصروفیات څومره وو؟ ❁ په مونږ باندې عام طور د یو کور ذِمه واري وي، د یو کور د یو څو کسانو پالنه وي خو زمونږه آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کائنات نبي دے، د نبوت فرائض یې هم پوره کول ❁ صحابۀ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان ته به یې عِلمِ دِین هم ښودلو ❁ د نیکۍ دعوت به یې هم ورکولو ❁ غم خواري به یې هم کوله ❁ د مریضانو تپوس به یې هم کولو ❁ د رسول

1... سُبُلُ الْهُدَیٰ، جماع ابواب سیرته... الخ، الباب الثالث فی وقت قیامه... الخ، جلد:8، صفحه:278 ملتقطًا-

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې به خلقو فريادونه هم وړاندې کول، د هغوئي فريادونه به يې هم اوريدل او زمونږه د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو دا شان دے چې څناورو به هم د هغوئي پۀ حُضُور کښې خپل غمونه بيانول، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ هغوئي باندې هم شفقت او رحمت فرمائيلو۔

داسې سوچ وکړئ چې څومره مصروفيات وو، د دې ټولو مصروفياتو باوجود به خوږ آقا، نُورِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ پابندئ سره او پۀ کثرت سره د الله پاک عبادت کولو۔

## د نيکانو خلقو عبادتونه

دغه شان به بزرګانِ دِين، د الله پاک نيکانو بندګانو هم پۀ کثرت سره عبادت کولو ❀ خواجه سِرِّي سَقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 98 کاله پۀ دُنيا کښې تشريف فرما وو، د څنګدن د وخت نه علاوه چا هغوئي پۀ ملاسته نۀ وو ليدلي، هميشه به يې عبادت کولو ❀ محمد جريري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تر يو کال پورې پۀ مکه مکرمه کښې وو، نۀ اوده شوےوو، نۀ يې ملا نيغه کړه، نۀ يې ښپې وغزولې، د سحر د نـمونځ کولو نه پس به يـې ذِکرُ الله شروع کړو، ماسپښين به شو، د ماسپښين نه پس به بيا د الله پاک پۀ ذِکر کښې مشغول شو، تر دې پورې چې مازديګر به شو، د مازديګر نه تر ماښامه پورې، د ماښام نه تر ماسخوتنه پورې، د ماسخوتن نه بيا تر سحره پورې به ناست وو او ذِکرُ الله به يـې کولو ❀ حضرت ابو بکر عياش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هره ورځ 30 زره کرته سورۀ اِخلاص لوستلو، روزانه به يـې 500 رکعته نفلونه کول، پۀ يوه ورځ کښې به يـې د قرآنِ کريم څو څو کرته ختم کولو ❀ اِمامِ اعظم، اِمامِ ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تر څلويښتو کالو پورې د ماسخوتن پۀ اوداسه باندې د سحر نـمونځ ادا کړو، هره شپه به يـې پۀ 2 رکعتونو کښې د قرآنِ کريم ختم کولو۔ (1)

---

1 ...جواہرُ البيان، صفحه:3332۔

## د غفلت د خوب نه رابيدار شۀ که رابيداريدل غواړې

حضرت رابعه بصريه رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡها د دويمې صدئ هجرئ ډيره مشهوره وليه ده، حضرت رابعه بصريه رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡها د الله پاک او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ډيره محبت لرونکې، د الله پاک د ويرې نه ژړيدونکې، عبادت ګزاره، د شپې عبادت کوونکې زنانه وه، هغې 50 کاله داسې تير کړل چې نۀ يې په بستره ارام وکړو نۀ يې پۀ تکيه باندې سر کيښودو، د هغې خادمه حضرت عَبدَه بنت شَوَّال رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡها فرمائي: حضرت رابعه رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡها به ټوله شپه پۀ عبادت کښې مصروفه وه، د سحر د نمونځ نه به لږه شان مخکښې پۀ مصله باندې سملاسته، بيا به لږ ساعت پس ويريدله او راپاخيدله به او ځان ته به يې وئيل: اے نفسه! تۀ به پۀ دې ناپائيداره دُنيا کښې تر څو پورې اوده يې؟ دُنيا خو د تنګئ کور دے، بيا دلته دومره خوب ولې؟ نن څۀ لږه ډيره ويښه پاتې شۀ، نيکئ وکړه، پۀ قبر کښې پۀ خوږ خوب اوده شۀ، هلته به دې تر قيامته پورې څوک هم نۀ راپاخوي، عمل دلته وکړۀ، ارام به هلته وکړې- بيا به پاخيدله او پۀ عبادت کښې به مصروفه شوه، حضرت رابعه بصريه رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡها ټول عمر هم داسې تير کړو- (1)

جاګنا ہے جاګ لے افلاک کے سائے تلے | حشر تک سوتا رہے گا خاک کے سائے تلے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دُنيا ته د راتللو مقصد عبادت دے

آه! يو مونږ يو چې د هر يو کار د پاره وخت اوباسو، د پيسو ګټلو د پاره راسره ښه ډير وخت وي ✿ د سيل د پاره که تلل وي نو ښه ډير وخت دے ✿ د موبائل او سوشل ميډيا (*Social Media*) د پاره هم راسره وخت شته ✿ که څوک مداري راشي نو د هغۀ نه د راتاؤيدو د پاره راسره هم وخت شته ✿ د لوبو د پاره راسره هم وخت شته ✿ پۀ سړکونو

1 ...عيون الحکايات، صفحه:103-

باندې د غټو غټو ایل سي ډیز (**L.C.Ds**) لګولو او د شپې تر ناوخته پورې د میچ وغیره کتو او د درز غوبل کولو د پاره راسره هم وخت شته- آؤ! که زمونږ سره وخت نشته نو صرف د عبادت د پاره وخت نشته ❁ مونږ ته که وخت نۀ میلاوېږي نو د اشراق او څاښت د پاره راته وخت نۀ میلاوېږي ❁ که وخت نۀ شته نو د اوابینو د نفلونو د پاره راسره وخت نشته ❁ که وخت نشته نو پۀ نیکو اجتماعاتو کښې د شرکت کولو د پاره راسره وخت نشته ❁ پۀ مَدَني قافلو کښې د سفر کولو د پاره راسره وخت نشته ❁ د نیکۍ د دعوت ورکولو د پاره راسره وخت نشته ❁ د عِلمِ دِین د زده کولو د پاره راسره وخت نشته ❁ که وخت نشته نو د قبر او د اخرت د تیارۍ د پاره راسره وخت نشته ❁ د دې نه علاوه د دُنیا د کارونو د پاره مونږه وخت اوباسو-

کاش چې زمونږه د اخرت فِکر نصیب شي، کاش چې مونږه خپل آقا او مولیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عملي طور خپل آئیډیل (***Ideal***) جوړ کړو او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سیرت مبارک پۀ خپل ژوند کښې پۀ نافذ کولو کښې کامیاب شو- کاش چې د عبادت توفیق مو نصیب شي-

عبادت میں گزرے مِری زِندگانی | کرم ہو کرم یا خدا یاإلٰہی(1)

## زمونږ د ژوند مقصد

پۀ 27 سیپاره، سورۂ ذَارِیَات، آیت: 56 کښې الله پاک فرمائي:

وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ﴿۵۶﴾ (پارہ:27، سورۂ الذاریات:56)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او ما پیریان او انسانان هُم د دې د پاره پیدا کړي دي چې زما عبادت کوي-

د دې آیت نه معلومه شوه چې مونږ دې دُنیا ته صرف د الله پاک د عبادت کولو د پاره

---

1...وسائل بخشش، صفحه:105-

راغلي يو- ځكه مونږ له پكار دي چې مونږ عبادت له د هر څيز نه زيات اهميت وركړو، باقي كه څۀ پاتې كيږي نو پاتې دې شي، پۀ عبادت كښې چې هيڅكله هم ناراستي اونه كړو- حضرت سفيان بِن عُيَينَه رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د حضرت قيس بن مُسلِم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه عادت وو چې هغوئي به ټوله شپه نـمونځونه كول، د پيشمني پۀ وخت كښې به كيناستو او د الله پاک پۀ حضور كښې به يـې اوښكې توئيولې او وئيل به يـې: دا هغه كار دے د كوم د پاره چې مونږه پيدا كړے شو، خُدائے دې نۀ كړي كه زمونږه خاتمه پۀ خير اونه شوه نو مونږ به هلاک شو- (1)

| | |
|---|---|
| گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہوگی | ہائے! میں نارِ جہنم میں جلوں گا یاربّ! |
| عفو کر اور سدا کے لئے راضی ہوجا | گر کرم کردے تُو جنت میں رہوں گا یاربّ! (2) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ كثرت سره د عبادت كولو فائدې

الله پاک دې مونږ ته هم پۀ كثرت سره د عبادت كولو توفيق راعطا كړي- كاش چې پۀ زړۀ كښې مو د الله پاک محبت كور وكړي او مونږه پۀ كثرت سره عبادت كوونكي جوړ شو- راځئ چې د عبادت د رغبت زياتولو د پاره پۀ كثرت سره د عبادت كولو دِيني او دُنيائي فائدې واورو:

د اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه والدِ محترم مولانا نقي علي خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: څوک چې عبادت كوي: ❀ الله پاک د هغه سره محبت فرمائي ❀ د هغۀ عظمت نصيب كيږي ❀ د هغۀ كارونه صحيح كيږي ❀ پۀ مشكلاتو كښې د هغۀ مدد كيږي ❀ د دښمن د شر نه بچ كولے كيږي ❀ د هغۀ د زړۀ نه ويره لرې كيږي ❀ هغه ته اوچتې حوصلې عطا كولے كيږي ❀ د هغه زړۀ فراخه كولے كيږي، هغه عِلم پۀ اسانۍ سره زده كوي ❀ د مخلوق پۀ

---

1...صفة الصفوة، جزء:3، جلد:2، صفحه:84۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:85۔

زړهٔ کښې د هغه محبت اچولے کيږي ❀ د هغهٔ برکت نصيب کيږي تر دې پورې چې خلق د هغه د جامو او کور نه هم برکت حاصلوي او فائده ترينه حاصلوي ❀ عبادت ګزار **مُستَجَابُ الدَّعوَات** کيږي يعنې د هغهٔ دُعا قبليږي ❀ پهٔ عبادت سره رُوح ته تازګي او قوت ميلاؤيږي، د طبيبانو پهٔ نزد د صحت د پاره د عبادت نه بهتر څهٔ خيز نشته، کوم کَس چې عبادت کوي د هغهٔ زړهٔ خوشحاله او بدن چاق وي ❀ عبادت ګزار به د مرګ د سختې نه محفوظ وي ❀ د هغه به پهٔ ايمان باندې ثابت قدمي نصيب کيږي ❀ هغهٔ ته پهٔ جوارِ رحمت کښې ځائے ميلاؤيږي ❀ فرښتے هغه د قبر د عذاب نه بچ کوي او د نکيرينو د سوالونو جوابونه ورته ښائي ❀ د هغه قبر روښانه او فراخه کولے کيږي ❀ د قيامت پهٔ ورځ باندې به هغهٔ ته تاج پهٔ سر کولے شي ❀ عبادت ګزار به د حشر ميدان ته پهٔ آس باندې سور راځي ❀ د هغهٔ سره به حساب نهٔ کيږي، که وي نو هم پهٔ اسانۍ سره به کيږي ❀ د هغهٔ به د حوضِ کوثر نه اوبه څښل نصيب کيږي چې بيا به چرې تږے کيږي نهٔ❀ عبادت ګزار به پهٔ پل صراط باندې پهٔ اسانۍ سره تيريږي ❀ د الله پاک پهٔ رضا باندې به مشرف کيږي ❀ عبادت ګزار به د قيامت پهٔ ورځ د الله پاک د عرش د سورې د لاندې ځائے بياموي ❀ د قيامت پهٔ ورځ به د هغهٔ د الله پاک ديدار نصيب کيږي او دا **نعمت د ټولو نعمتونو نه افضل دے۔** (1)

مِری زِندگی بس تِری بندگی میں | ہی اے کاش گزرے سدا یاالٰہی! (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده *(Madani Qaida)* موبائل ايپلي کيشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې **مَدَني قاعِده**

1...انوارِ جمالِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:334 ملخصًا۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:106۔

(*Madani Qaida*) دے۔ په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو (*Audio*) شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک (*Click*) کوئ، په آډيو (*Audio*) کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مرستې سره په اسانۍ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (*Practice*) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## راځئ چې د بيان په اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:

# صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** که خپله عقيقه مو نۀ وي شوې نو بيا هم د خپلو بچو عقيقه کولے شئ۔

**وضاحت:** په عوامو کښې دا خبره مشهوره ده چې د چا خپله عقيقه نۀ وي شوې نو هغه د خپلو بچو عقيقه هم نشي کولے۔ دا غلطه خبره ده د دې هيڅ حقيقت نشته۔ د شريعت حکم دا دے چې عقيقه مستحب (يعني د ثواب کار) دے۔ اولاد د خپل مور او پلار د پاره نعمت وي، عقيقه د دې نعمت شکرانه ده۔ ځکه چې د چا اولاد وي، که کولے يې شي نو د هغوئي عقيقه دې ضرور وکړي۔ داسې چې کوم لوئي شوي دي او په ماشوم توب کښې د هغوئي عقيقه نۀ وي شوې نو که غواړي نو خپله عقيقه پخپله هم کولے شي۔ [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...فتاویٰ اہلسنت غیر مطبوعہ، فتوی نمبر: Aqs875۔

# د اَسمَاءُ الـحُسنىٰ برکتونه (وظيفه)

## يَاعَدۡلُ

څوک چې د ماښام د نـمونځ نه پس **يَا عَدلُ** يو زر [1000] کرته ولولي نو د اسماني بلاګانو نه به نجات بياموي- اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيم!

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد